# د ډاکټر راج ولي شاه خټک د شاعرۍ نفسياتي تجزيه

# Psychological Analysis of the Poetry of Dr.Rajwali Shah Khattak

Dr Muhammad Ali Dina khel*

ABSTRACT

Almost all of the social sciences are closely related. Same is the case with Psychology and Literature. Psychology and literature are interrelated and interdependent subjects. Human mind makes the literature and literature nourishes human's mind. It is also said that the Psychology of the unconscious can be called literature. A lot of psychological terms have their roots fixed in literature. Psychological analysis of a literary piece is a latest trend in criticism. So far as the poetry of Dr. Rajwali Shah Khattak is concerned, he has used the terms of Psychology, both intentionally and unintentionally. Personality is a subject of both, Psychology and literature. His personality has also been reflected in his poetry. He has used most of the abstract concepts and terms of Psychology in his poetry. This article attempts to discover a few psychological aspects of the poetry of Dr. Rajwali Shah Khattak.

**KeyWords:** Psychology, Literature, Pashto, Poetry, Raj Wali Shah Khattak.

زما بلها د نفسياتو غوټې
تا د نظر په څۀ منتر اوسپړدې[۱]

د ادب او د نفسياتو ډېر ژور تعلق دے ځکه چې که نفسياتو ته مونږ د ذهن مطالعه ووايو نو ادب د ذهني تخليق نوم دے. او "هر اديب د خپلو نفسياتو، خپل مزاج او خپل فطرت مطابق ادب تخليق کوي[۲]." د نفسياتو د علم د خورېدلو او د نفسياتو او د ادب د نزدې تعلق د وجې نه نفسياتي جاج هم خور شۀ[۳]. د نفسياتي جاج يا تنقيد په حقله سحر يوسفزے ليکي چې کوم تخليق د شعور په لاره مونږ ته رارسېدلے وي نو د داسې تخليق د جاج د پاره نقاد له پکار دي چې د ليکونکي دننني جهان ته کوز شي نو هله به په دغه تخليق سم پوهه شي. خو دا تخليق د

* Area Study Centre UOP, alidinakhel@gmail.com

لیکونکي په تحت الشّعور کښې دومره ورک شي چې د هغه زمانه او کورني حالات او هرڅۀ هېر کړي[۴]. او دغه شان داجاج صرف مجرّد اصطلاحات پاتې شي. د ادبیاتو عالیه لویو لویو تخلیق کارانو ځان د هر دور د انسانانو په نفسیاتو پوهه کړے وي او دغه وجه ده چې د هغوي په تخلیق کښې هغه نفسیات واضحه ښکاري. د عمر په هر دور کښې نفسیات جدا جدا وي یعني د ماشومانو نفسیات، د ځوانانو نفسیات، د بوډاګانو نفسیات وغیره. او دغه رنګ د نارینۀ او د زنانۀ نفسیات هم جدا جدا وي. په اردو شاعرۍ کښې د علامه اقبال په کلام کښې د ماشومانو د نفسیاتو ډېر ښۀ اظهار شوے دے. دې باره کښې قاسم یعقوب داسې لیکي.

*اقبال نے بچے کی سائیکی میں اصل میں، اپنی جبلی قوتوں کی ادراک کی بازیافت کی ہے اور سب سے بڑھ کر اس کو روایتی شعری تجربات مثلاً اضطراب، جدائی، وصل، آرزو سے ملا کر حیرت انگیز منظر نامہ مرتب کیا ہے۔ اقبال کے بعد اس روایت کو بہت فروغ حاصل ہوا ہے۔ آج کی جدید شعری رویّوں میں نفسیات اطفال کا استعمال ایک اہم موضوع بن گیا ہے[۵]۔*

د ډاکټر راج ولي شاه خټک په شاعرۍ کښې نفسیاتي اړخونه ښۀ واضحه ښکاري. د لغت په اعتبار سره نفسیات د اروا پوهنې او جذبات پوهنې نوم دے. په بنیادي توګه نفسیات د انسان د ذهني ژوند د ارتقاء په مختلفو اړخونو بحث کوي. په ټولنه کښې د انسان د اعمالو او د تجرباتو تجزیه د نفسیاتو کار دے. د دې تجزیئې نه اصول او قوانین جوړ شي چې د ښۀ ژوند په کار راتلے شي. د نفسیاتو خو ډېر تعریفونه شوي دي خو دلته ئې یو جامع تعریف وړاندې کولے شي.

Psychology is the science of human and animal behavior; it includes the application of this science to human problems.[۶]

په نفسیاتو کښې د نفس یا د ځان ذکر کېږي او راج ولي شاه خټک هم په خپله شاعرۍ کښې "د ځان د پاره د ځان سره خبرې کړې دي"[۷]. په نفسیاتي تنقید کښې چې کوم نوے رجحان راغلے دے هغې ته تحلیل نفسي وائي[۸]. د نفس یا د ځان باره کښې راج ولي شاه خټک داسې وائي.

د ژوندون د هر عنوان سره په جنګ یم
هم د ځان هم د جهان سره په جنګ یم
بل زما او ستا تر مېنځه رقیب څوک دے
خو دا ځان دے د خپل ځان سره په جنګ یم

کـــوم ســـاعت بـــه دې پـــه کـــوم مقـــام جـــدا کـــړي
د زمـــــان او د مکــــــان ســــره پـــــه جنـــــګ يــــم[۹]

هم دغه "ځان" دے چې د تکميل نوم ئې شخصيت دے کوم چې د نفسياتو اهمه موضوع ده. او د شخصيت د تکميل اظهار پته د رويې نه لګي. د دې نه پته اولګېده چې په نفسياتو کښې د رويئّې په مطالعه ډېر زور اچولے شي. د رويې په ښۀ طريقه د پېژندلو د اهميت په باره کښې يو ماهر نفسيات وائي چې نفسيات د رويې د پېژندلو کوشش کوي چې د دې نه مونږ ته فائده راورسي[۱۰]. خيالات او جذبات د شخصيت يوه اهمه حصه ده. د دې باره کښې يو ماهر نفسيات داسې وائي.

> Personality consists of the distinctive patterns of behavior (including thoughts and emotions) that characterize each individual's adaptation to the situation of his or her life.[11]

د رويئې په امتيازي خصوصياتو کښې خيال او جذبه اهم څيزونه دي. د خارجي يا داخلي محرک په وجه د هر يو ساه لرونکي راوچت شوي حالت او کيفيت ته جذبه وائي[۱۲]. لکه څنګه چې مخکښې ووئيلې شو چې شخصيت د نفسياتو او د ادب شريکه موضوع ده او خيال د شخصيت يوه حصه ده. دغه وجه ده چې په ادب کښې د خيال لټون هم د نفسياتو يوه موضوع ده د ډاکټر راج ولي شاه خټک په شاعرۍ کښې خيال ته ډېره توجه ورکړې شوې ده. لکه چې وائي.

زۀ د خيـــال تېـــزاب پيـــدا کـــړم خيـــال پـــرې ويـــنځم
پـــس لـــه هغـــې دې نـــوم اخلمـــه پـــه خيـــال کښـــې[۱۳]

او دغه رنګ دا هم يوه نا اشنا تجربه او نفسياتي کيفيت دے چې يو د حسّاس طبيعت خاوند شاعر او اديب د خپل فکر په توره غوڅېږي.

چـــې غوڅېږمـــــه د خپـــــل فکـــــر پـــــه تــــوره
اوس د خيــــال پـــه کـــانو خيـــال پـــه کـــانو ولـــم[۱۴]

خيال د ذهني ارتقا د ناپ کولو يوه پېمانه هم کېدے شي. د خيال د بلندۍ او رفعت نه مونږه ذهني بلندي او رفعت هم معلومولے شو. خيال خو هر سړے لري خو رفعت خيال د پوخ نظر سره تعلق لري او د دې د پاره دا ظاهري دوه سترګې سم ليدل نۀ شي کولے خو د دې د پاره د زړۀ سترګې رڼا کول پکار دي.

د فطـــــرت د نـــــاوې ځـــــه رنګـــــه جلـــــوې دي
کـــه پـــه پـــوخ نظـــر چـــا اوکـــړۀ ورتـــه خيـــال[۱۵]

کله کله خو خيال داسې والوزي چې بيا ئې واپس راتلل هم ګران وي او د هغه سره په دغه لارو تلل هم ګران وي. د ډېرو خلقو نه د هغوي خيال په تيرو کښې ورک شي او بيا هغه په ټپو ناست وي.

چرتـــه کښـــې پلونـــه پـــه دا لاره د ســـفر نشـــته
واګـــې د خيـــال د نيلـــي نشـــته رهګـــزر نشـــته[۱۶]

د ښاېست خيال د حقيقي ښائست نۀ هم ښۀ وي ځکه چې دا د همېشه د پاره وي. لکه په دې ټپه کښې چې وائي.

غم دې له تانه وفادار دے
تۀ کله کله غم دې تل راځخه وينه

او دا هغه غم دے چې په دې کښې دننه خوشحالي او لذّت پټ وي. خو دغه خوشحالي حاصلول د هر چا د وس کار نۀ دے. خو لاکان وائي چې لذت په يو شي کښې خپل نۀ وي او دا يو غېر مرئي او غېر مادي حقيقت دے. وائي چې د لذّت تلاش پخپله لذت دے او تکليف هم پخپله د لذت يو شکل دے[۱۷].

زۀ ارمـــان د يـــوه خيـــال ســـتا د ښائســـت ووم
د اظهـــار لمبـــه مـــې اونـــۀ کـــړه لـــوګے شـــوم[۱۸]

د دې نه پته لګي چې دا ټول نفسياتي کشمکش وي چې بغېر د دې کيفياتو د تجرباتو نه په دې څوک نۀ پوهېږي. او دا ټوله د خيال يوه دنيا وي.

زماژونـــــدون زمـــــا رازونـــــه ســـــپړي
دا څـــوک د خيـــال د زلفـــو ولونـــه ســـپړي[۱۹]

د آئينې تصوير اصل نه وي خو د اصل يوه شبيهه وي خو چې کله ائينه هم د خيال شي او بيا په هغې کښې کوم تصويرونو چې وي هغه هم د خيالاتو وي نو يقيناً چې په کتلو کښې به ئې ډېر خوند وي خو هر څوک ئې ليدلے نۀ شي.

راشـــه اوګـــوره د خيـــال پـــه آئينـــه کښـــې
پـــه کښـــې ووينـــه د فکـــر صـــورتونه[۲۰]

خو دغه يو تصور چې نۀ وي نو بيا په آئينه کښې هيڅ هم نۀ ښکارېږي او دا آئينه د شاعر په خيال کښې ړنده وي۔

بــــې د ســــتا د تصــــوره آئينـــه زمــــا ړنــــده ده
پــه هــر اړخ ئــې ســتا تصــوير دے کــه د فکــر کــه جذبــه ده[۲۱]

او کله چې يو شاعر يا اديب د مادي دنيا د فاني ښکلاګانو نۀ ستړے شي نو ځانله يوه خيالي دنيا اباده کړي ځکه چې دغه دنيا د عامو خلقو نه په امان وي۔ او په فن کښې ورته لافانيّت حاصل شوے وي۔

د خيــال تصــوير مــې داســې ښــۀ دے چــې چــا اونــۀ ليــدۀ
ګنــې دنيــا ئــې هــره کرښــه ورانــول غــواړي[۲۲]

شخصيت د نفسياتو او د ادب يوه شريکه موضوع ده۔ او کله چې يو اديب د چا شخصي خاکه راکاږي نو هغه هم د نفسياتو په رڼا کښې وي۔ د شخصيت مطالعه او شخصيت نګاري د همېشه د پاره د اديبانو او د نفسياتو د ماهرينو د پاره د دلچسپۍ يوه موضوع پاتې شوې ده۔ خو دا خبره ثابته شوې ده چې د هر انسان شخصيت د بل نه مختلف وي او د يو کس د شخصيت د نتائجو اطلاق مونږ په بل نۀ شو کولے[۲۳]۔ د شخصيت په رڼا کښې د تخليق جاج او د تخليق په رڼا کښې د شخصيت جاج اخستلے کېږي خو ايليټ د داسې قسمه تنقيد خلاف وۀ د هغه دا خيال وۀ چې يو شاعر يا اديب ته د دۀ د شخصيت، سوانح او د تاريخي تسلسل په تناظر کښې د کتلو په ځاے دې د هغه شاعرۍ يا تخليق ته اوکتلے شي۔ د ايليټ دا خيال وۀ چې يو ليکوال په تخليق کښې د خپل شخصيت انعکاس نۀ شي کولے بلکې د شخصيت نه فرار حاصلوي[۲۴]۔ خو د دې سره اختلاف کېدے شي لکه اباسين يوسفزے چې وائي۔

کــــه زمــــا د شخصــــيت حدونــــه ګــــوري
زمــــا فــــن زمــــا د فکــــر ترجمــــان دے

د ادب يا د فن د تجزيې نه مونږ د تخليق کار د شخصيت پټ اړخونه هم په ډاګه کولے شو۔ او د فرائيډ د وينا مطابق د چا د شخصيت باره کښې د ليکلو نه مخکښې د هغه د ماشوموالي په زمانه هم تحقيق پکار دے[۲۵]۔ د نفسياتو يو ماهر يونګ (Jung) د شخصيت څلور وظائف په ګوته کړي دي۔ دغه څلور وظائف تفکّر، احساس، تجسّس او وجدان دي۔ دا څلور واړه توکي د راج ولي شاه خټک په شاعرۍ کښې په نظر راځي او مونږ ترې ډېر په اسانۍ سره د هغه د اروا

پوهنې اندازه لګولې شو۔ مخکښې د دې نه چې د شخصيت په دې ځلورو وظائفو بحث اوکړے شي شخصيت پېژندل غواړي۔ د يو فرد د ذهني، طبعي، اخلاقي، او د ټولنې سره د تړلو صفاتو تنظيم او ربط ته شخصيت وائي[۲۲]۔" شخصيت د نفسياتو د نفس مضمون يو اهم توکے دے۔ مورګن د شخصيت باره کښې داسې وائي۔

> Personality may be hard to define, but we know it when we see it. We all make personality judgements about the people we know. A major part of coming to understand ourselves in developing a sense of what our personality charactaristics are. We even form impressions about the personalities of people we do not know but have only read about.[۲۷]

د شخصيت يو بل تعريف داسې شوے دے۔

> Personality refers to a set of relatively enduring behavioral characteristics that describe how a person reacts to the environment.[۲۸]

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شو د شخصيت ځلور وظائف دي۔ په هغې کښې اولنے تفکّر دے۔ تفکر"هغه ذهني عمل ته وائي چې د هغه په ذريعه يو فرد د څيزونو ماهيئت پېژني۔ فېصلې، دلائل، تخېل، د مسائلو حل، او حافظه وغېره د تفکر مختلف صورتونه دي[۲۹]۔ تفکر ته فکر هم وئېلے شي۔ راج ولي شاه خټک په خپله شاعرۍ کښې "فکر" داسې بيان کړے دے۔

د ولـــــي ســـــدا بهـــــار خودســـــره فکـــــر
ســـپرلے نـــۀ دے چـــې د شـــپو ورځـــو غـــلام شـــي[۳۰]

فکر هم د ارتقاء د مرحلو نه تيرېږي او کمال ته رسي۔ کوم ته چې پوخ فکر وائي۔ او کله چې فکر پوخ شي نو د دې سره په نظر کښې وسعت هم پېدا شي۔ خو کله کله فکر بالکل رفتار نه شي کولے او بس په ځاے داسې ولاړ وي لکه چې په پښو شل وي۔

فکـــــر مـــــې ســـــتا اينځـــــرو ســـــترګو پســـــې
پـــوخ شـــۀ زرغـــون شـــۀ ولـــې ګـــل نـــۀ کـــوي[۳۱]

دا د چـــا ســـــترګو وهلـــے دے څـــه چـــل دے
د پښـــتون فکـــر مـــودې اوشـــوې چـــې شـــل دے[۳۲]

چې د فکر رفتار تېز وي نو بیا تخلیق کار هر طرف ته ځي خو دغه د خیال او تصور دنیا دومره خوره وره ده چې دا فکر ئې انتها نۀ شي معلومولے.

زۀ دې لېونـــو فکرونـــو چرتـــه چرتـــه بوتلمـــه
اوګـــوره وحشـــته ډېـــره لویـــه صـــحرا پـــاتې ده[۳۳]

خو بیا یو وخت داسې هم راشي چې د فکر رفتار ډېر تېز شي او نه ستړے کېدونکے شي او د دې دنیا د سرحداتو نه ډېر زر واوړي. او د یوې بلې دنیا په لټون شي.

دائـــره د کائنـــات کښـــې زمـــا فکـــر نـــه ځـــائېږي
لـــږ ارتـــې زولنـــې د چاپېرچـــل کـــړه بیـــا بـــه ځـــم[۳۴]

زمـــــا د فکـــــر پـــــه انګـــــار تیرېـــــږي
لمحـــه لمحـــه چـــې پـــه دیـــدار تیرېـــږي[۳۵]

کله چې د فکر نیلے په قابو کښې نۀ راځي نو دغه کیفیت بیا ډېر نا اشنا وي او خلق پرې نۀ پوهېږي نو د دې وجې نه تخلیق کار دا ګوري چې د فکر د نیلي واګې راونیسي چې ډېر کاواک لاړ نۀ شي.

واګـــې مـــې د خپـــل فکـــر پـــه لاس کښـــې شـــوې
ســـور پـــه وخـــت ولـــې شـــوم، درنـــګ کښـــے اودرېـــدم[۳۶]

د دې نه علاوه راج ولي شاه خټک صېب د فکر مختلف کیفیات په دې لاندینو شعرونو کښې بیان کړي دي.

زمـــا فکـــر اور اخســـتے ســـتا د یـــاد د تـــاو لـــه مخـــه
کلـــه کلـــه چـــې دریـــاد شـــم دا د دغـــه اور لمبـــه ده[۳۷]

یـــا مـــې فکـــر ســـپېلنے دے چـــې پـــه یـــاد کښـــې دې لـــوګېږي
دا چـــې تـــا ســـره مـــې یـــاد دے شـــائد دا ئـــې صـــدقه ده[۳۸]

د رڼـــا شـــــغلې رانیســـــمه پـــــه لاس کښـــــې
ګېـــر پـــه لومـــه د خپـــل فکـــر د صـــیاد شـــوم[۳۹]

راشـــه اوګـــوره د خيـــال پـــه آئينـــه کښـــې
پـــه کښـــې اوګـــوره د فکـــر صـــورتونه[۴۰]

د ولـــــي د فکـــــر تـــــولې ملغلـــــرې
مـــا امېـــل نـــۀ کـــړې مـــا اوشـــيندلې قـــام تـــه[۴۱]

لاړل د ســـــترګو کـــــه مـــــې شـــــته رنګونـــــه
شـــول مـــې پـــه فکـــر کښـــې ميشـــته رنګونـــه[۴۲]

ســـر کښـــې مـــې ښـــخې د فکرونـــو نېـــزې
وائـــي تهمـــت پـــه مـــا ســـرتور خلـــق[۴۳]

هغـــه د خپـــل فکـــر پـــه لاره مـــزل ځنګـــه اوکـــړې
چـــا چـــې د ګـــورو زلفـــو ســـيورو تـــه دمـــه کـــړې ده[۴۴]

تفکّر د ارتقاء په مرحلو کښې تخېل ته رسي۔ تخېل د هغه ذهني صلاحيت نوم دے کوم چې د خارجي دنيا تصويرونه بغېر د حواس خمسه د ادراک نه جوړوي[۴۵]۔ تخيل د نا ليدلي ځيزونو د پاره د علاماتو او د نخښو تلاش کوي[۴۶]۔ تخيل باره کښې راج ولي شاه خټک داسې وائي۔

داســـې مـــې روښـــان دے تخيـــل پـــه تـــا
تـــۀ نـــۀ وې خيـــالي غونـــدې دې وه رڼـــا[۴۷]

د خپل ذات په حواله د ځيزونو د قدروقيمت تعين ته احساس وئېلے شي۔ د ذهني تجربې تاثراتي اړخ ته هم احساس وائي۔ د يو ځيز د ادراک حاصلولو نه وروستو د دغه ځيز د خوښۍ يا نا خوښۍ او د ښۀ بد شعوري تجربې ته هم احساس وائي[۴۸]۔ د احساس په ذريعه يو کس ته د ژوند مزه، غم، غصه، خفګان ،خوشحالي، د محبت او د نفرت ذاتي تجربې حاصلېږي۔ رراج ولي شاه خټک خپل احساس داسې بيانوي۔

چـــې د خپـــل وجـــود احســـاس کـــولے نـــه شـــم
دا کـــوم يـــار زمـــا تـــر ځنـــګ دے نـــۀ پـــوهېږم[۴۹]

ژوندے ضمير او مړ احساس د خلقو
په دغه اور پورې ئې نور اور شه[۵۰]

يو ښائست وۀ او جلوې ئې بيلې بيلې
څۀ نظر څۀ د احساس او څۀ د خوند وې[۵۱]

احساس مې سندريز دے نن په ژبه د خمار
دوه سترګې دې اشنا راته غزل کړه بيا به ځم[۵۲]

ستا د خمارو سترګو د برند نظر لېواله
ګوره که اودۀ پښتون احساس پرې راويښېږي[۵۳]

د ارمان په تېغ د ژوبل احساس ګله
پاڼه پاڼه دې د ژوندله جبره زار کړه[۵۴]

دا به څوک زما په باب وائي ګلفام ته
دا احساس مې د غېرت ئې راوړي پام ته[۵۵]

چې لېوني فکرونه اونه کړي لمبه د اظهار
د احساس اور کښې سپېلني شي لوګېدل غواړي[۵۶]

چې احساس په چا کښې نشته
جذبې ولې پېدا کېږي[۵۷]

قامي احساس مې، دے خوبولے
ولې شوګير يم، سر په زنګون يم[۵۸]

بـــې لـــه تـــا احســـاس د ښائســـت نـــه لـــرم
ســـترګې مـــې خـــوږېږي پـــه کاتـــۀ بانـــدې[۵۹]

د نفسياتو په رڼا کښې د شخصيت په وظائفو کښې دريمه وظيفه "تجسس" دے۔ دلته تجسس د sensing په معنا کښې راغلے دے۔ دا يو ادراکي عمل دے۔ د دې په ذريعه د حقيقت پېژندګلو کېږي۔ د ادراک باره کښې راج ولي شاه خټک داسې وائي۔

زۀ له خپل ادراک
خپل تخيل حال وايمه
چاته وايم[۶۰]

د شخصيت څلورمه وظيفه وجدان دے۔ وجدان هغه علم دے چې بغېر د حواس خمسه او بغېر د الات معرفت نه حاصلېږي[۶۱]۔ د راج ولي شاه خټک په شاعرۍ کښې وجدان داسې يادشوے دے۔

چـــې د ضـــمير د ســـوداګرو پـــه حلقـــه کښـــې اوســـم
زۀ د وجـــدان ډيـــــوه کـــــه بلـــــه
د زړۀ کـــــــور کښـــــــې لـــــــرم
تېـــزه ســـيلۍ ده ورانـــوي د عقيـــدو برجونـــه[۶۲]

او بل ځائے کښې داسې وائي۔

عقـــل او وجـــدان مـــې پـــه يـــو خـــال کښـــې دے
حســـن د جانـــان مـــې پـــه يـــو خـــال کښـــې دے[۶۳]

شعور هم د نفسياتو يوه اهمه موضوع ده۔ راج ولي شاه خټک د شعور په باره کښې داسې وائي۔

مـــا د ثـــواب پـــه خـــاطر پرېښـــو ثـــواب
د خپـــل شـــعور عـــذاب تـــر دې راوســـتم[۶۴]

دواړه کســـي مـــې قربـــان شـــه ســـتا د نومـــه
تـــۀ رڼـــا مـــې د شـــعور تـــۀ مـــې نظـــر ئـــې[۶۵]

زۀ شـــعور تـــه د نمرونـــو چينـــې ګـــورم
آئينـــه ئـــې ســـتا د نـــوم د يـــاد د نـــور کـــړم[۶۶]

وار د ســترګو مــې خطــا شــي چــې رامــخ شــي
چــې پــه شــا شــي شـعور ړونـد عقـل مــې خـام شــي[۶۷]

پـــه تـــلاش کښـــې د اشـــیاؤ د شـــعور تتـــه ډیـــوه ده
هـر ځـوک تېروتـو پـه هـر ځـۀ چـا دا شـپه ترسـره نـۀ کـړه[۶۸]

نمـــر ســـپوږمۍ او ســـتوري بـــه هـــم وي ولـــي
بیـــا هـــم د شـــعور دۀ تـــرې نـــه ښـــۀ رڼـــا[۶۹]

تصور هم یوه نفسیاتي اصطلاح ده. تصور د یو شاعر د پاره هله کامیاب وي چې کله د تصور تزکیه اوشي خو هر کله چې تصور مادي دنیا ته نزدې وي نو تزکیه ئې ګرانه وي نو هم دغه وجه ده چې راج ولي شاه خټک صیب تصور د تصور په زمزم پاکول غواړي.

تصـــور د تصـــور پـــه زمـــزم پـــاک کـــړم
ســـپېلنے کړمـــه هســـتي ورتـــه لـــوګے شـــم[۷۰]

په تیاره کښې رڼا لټول انساني فطرت دے خو په تیاره کښې داسې رڼا لټول چې هغه د رڼا ضد وي خو د تیارې د پاره رڼا وي دا ګران کار دے خو د دې لټون لارو ته دا کار ډېر اسان وي او ډېر زر هغوي ته دغه رڼا مېلاو شي.

تصـــور کښـــې ســـتا د زلفـــو د رڼـــا لټـــون تـــه ګـــوره
ســـودائي د تـــورو شـــپو تـــه ســـبائي پـــه مخـــه راغلـــه[۷۱]

ســـــــتا د زلفـــــــو تصـــــــور مـــــــې
د تیـــــــرو پـــــــه لـــــــوري بیـــــــائي[۷۲]

د تصور حدونه د هر چا د پاره مختلف وي. او دا د هغه په ذاتي تجربې او مشق باندې انحصار لري. که ځوک د تصور د رفعت او د رفتار د تېزولو کوشش کوي نو دا ممکنه ده. خو اخر به بیا هم په یو حد دے سترے کېږي ضرور او تصور به اودرېږي او حقیقت ته د رسېدو د پاره به دوباره خواري غواړي.

اوس دې تصـویر هـم د تصـور پـه حـد کښـے نـۀ راځـي
نـــوره ځـــومره شـــپه یـــا د امیـــد د ســـبا پـــاتې ده[۷۳]

اوس رنګينـــــــي د تصــــور چـــــې نشـــــته
دا شـــو پاخـــــۀ کـــــه وو، کچــــه رنګونــــــه[۷۴]

خو چې کله دے حقيقت ته اورسېږي نو بيا د دۀ مقصد هر ځاے کښې په نظر راځي. خو دې مرحلې ته رسېدل هم ګران کار دے.

ســــــتا د تصــــــور رڼـــــــا ذره ذره کښـــــــې بلــــــه
شـــپه ده او صـــحرا، د ســـپوږمۍ عکـــس پـــه کښـــې ځلېـــږي[۷۵]

ځــــــار لـــــــه تصـــــور د تــــورو ســــــترګو شــــم
مــــــا تــــــه راکــــــوي يــــــوه شـــــيبه رڼــــــا[۷۶]

شـــــپه د هجـــــر ده روښــــــان مــــــې تصـــــــور دے
زمـــــا يـــــاد کښـــــې ســــتا د دوه ؤ ســـــترګو مشــــال دے[۷۷]

او د حقيقت دې مرحلې ته د رسېدلو د پاره يو مقصد يا مرام پکار دے او په خپل مقصد توجه پکار ده چې په خيالاتو کښې انتشار پيدا نه شي.

يــــــا دې لټــــون يــــــا تصـــــــور يــــــا فکــــــر
يــــــا مــــــې ســــــتا مـــــخ تــــــه غـــــړولے ســـــترګې[۷۸]

**د بحث لنډيز**

ډاکټر راج ولي شاه خټک په انساني فطرت او نفسياتو ښۀ پوهېدلو او هم دغه وجه ده چې د هغه په شاعرۍ کښې د نفسياتو ګڼ شمېر اړخونه ښکارېږي او د دې تر څنګ ئې د نفسياتو يو شمېر مجرد اصطلاحات هم استعمال کړي دي. د نفسياتو او د انساني فطرت د پېژندلو اغاز د خپل ځان د پېژندلو نه پس کېږي. او د هغه په شاعرۍ کښې ګڼ شمېر شعرونو نه د هغه دغه صلاحيت په نظر راځي. د نفسياتو په علم د هغه د پوهېدلو اندازه مونږ د دې نه لګوو چې په ډېرو ځايونو کښې هغه په شعوري توګه د نفسياتو اصطلاحات استعمال کړي دي او نفسياتي اړخونه ئې چېړلي دي. او دغه رنګ په غېر شعوري توګه هم هغه د نفسياتو ګڼ شمېر اصطلاحات په خپله شاعرۍ کښې استعمال کړي دي.

# حوالې


۱. خټک، راج ولي شاه، سنګزار، پېښور، يونيورسټي پبلشرز، ۲۰۱۰، مخ:۳۸

۲. خټک، راج ولي شاه، ډاکټر، (سريزه) مشموله ادب څۀ دے مصنّف سحر يوسفزے، مينګوره، شعيب سنز پبلشرز اينډ بکسيلر، ۱۹۹۲/۱۹۲۷، مخ: ۱۲

۳. يوسفزے، سحر، ادب څۀ دے، مينګوره، شعيب سنز پبلشرز اينډ بکسيلر، ۱۹۹۲/۱۹۲۷، مخ:۱۳۷

٤. هم دغه اثر، مخ:۱۳۸

5. یعقوب، قاسم، بچّوں کی نفسیات اور علامہ اقبال (مقالہ) مشمولہ تخلیقی ادب، اسلام آباد، نیشنل یونیورسٹی آف ماڈرن لینگویجز، شمارہ: سات (جون 2010)، ص:475

6. Morgan, Clifford T., Introduction to Psychology (7th Edition) New York, McGraw-Hill Book Company, 6th print 2004, p. 4

۷. خټک، راج ولي شاه، سنګزار، پېښور، يونيورسټي پبلشرز، ۲۰۱۰، مخ:۱۴

8. بریلوی، عبادت، ڈاکٹر، اردو تنقید کا ارتقاء، کراچی، انجمن ترقی اردو پاکستان، اشاعت پنجم 2001، ص:384

۹. خټک، راج ولي شاه، سنګزار، پېښور، يونيورسټي پبلشرز، ۲۰۱۰، مخ:۴۵

۱۰. Lefton, Lester A., Psychology, Boston, Allyn and Bacon, Inc., ۱۹۴۲/۱۹۸۰, p.۱

۱۱. Morgan, Clifford T., Introduction to Psychology (۷th Edition) New York, McGraw-Hill Book Company, ۲th print ۲۰۰۴, p.۵۲۸

۱۲. Lefton, Lester A., Psychology, Boston, Allyn and Bacon, Inc., ۱۹۴۲/۱۹۸۰, p.۱۳۱

۱۳. خټک، راج ولي شاه، سنګزار، پېښور، يونيورسټي پبلشرز، ۲۰۱۰، مخ:۱۸

۱۴. هم دغه اثر، مخ:۲۴

۱۵. هم دغه اثر، مخ:۵۴

۱۲. هم دغه اثر، مخ:۵۵

۱۷. اجمل، محمد آثر، ڈاکٹر، تنقید اور نفسیات (مشمولہ)، راوی، لاہور، جی سی یونیورسٹی، 2008، ص:126

۱۸. خټک، راج ولي شاه، سنګزار، پېښور، يونيورسټي پبلشرز، ۲۰۱۰، مخ:۲۹

۱۹. هم دغه اثر ، مخ:۷۵

۲۰. هم دغه اثر ، مخ:۱۰۲

۲۱. هم دغه اثر ، مخ:۸۳

۲۲. هم دغه اثر ، مخ:۱۱۷

23. ثمینہ، بشریٰ،اردو میں شخصیت نگاری کے نئی رجحانات کا تنقیدی محاکمہ (مقالہ) مشمولہ تخلیقی ادب، اسلام آباد، نیشنل یونیورسٹی آف ماڈرن لینگویجز، شمارہ: پانچ (جنوری 2008)، ص:181

24. آغا، وزیر، ڈاکٹر، تنقید اور جدید اردو تنقید، کراچی، انجمن ترقی اردو پاکستان، 1989، ص:44،45

25. اجمل، محمد آثر، ڈاکٹر، تنقید اور نفسیات (مشمولہ)، راوی، لاہور، جی سی یونیورسٹی، 2008، ص:125

26. احمد، صوفي گلزار (مرتّب)، کشاف اصطلاحات نفسیات، اسلام اباد، مقتدره قومی زبان، 1993، ص:330

27. Morgan, Clifford T., Introduction to Psychology (7th Edition) New York, McGraw-Hill Book Company, 6th print 2004, p.567

28. Lefton, Lester A., Psychology, Boston, Allyn and Bacon, Inc., 1946/1980, p.381

29. احمد، صوفي گلزار (مرتّب)، کشاف اصطلاحات نفسیات، اسلام اباد، مقتدره قومی زبان، 1993، ص:437

۳۰. خټک، راج ولي شاه، سنګزار، پېښور، يونيورسټي پبلشرز، ۲۰۱۰، مخ: ۵۰

۳۱. هم دغه اثر، مخ:۲۵

۳۲. هم دغه اثر، مخ:۳۵

۳۳. هم دغه اثر ، مخ:۴۳

۳۴. هم دغه اثر ، مخ:۵۲

۳۵. هم دغه اثر ، مخ:۴۳

۳۶. هم دغه اثر ، مخ:۴۵

۳۷. هم دغه اثر ، مخ:۱۳

۳۸. هم دغه اثر ، مخ:۸۳

۳۹. هم دغه اثر ، مخ:۱۰۲

۴۰. هم دغه اثر ، مخ:۱۰۷

۴۱. هم دغه اثر ، مخ:۱۱۱

۴۲. هم دغه اثر ، مخ:۱۳۲

۴۳. هم دغه اثر ، مخ:۱۴۵

۴۴. هم دغه اثر ، مخ:۱۲۸

۴۵. Gray, Martin, A Dictionary of Literary Terms, Hong Kong, Longman York Press, ۱۹۸۴/۱۹۹۴, p. ۱۴۵

٤٦. عابد، سیّد عابد علی، اسلوب، لاہور، مجلس ترقی ادب، طبع دوم 1996، ص:189

۴۷. خټک، راج ولي شاه، سنګزار، پېښور، یونیورسټي پبلشرز، ۲۰۱۰، مخ:۱۰۱

48. احمد، صوفی گلزار (مرتّب)، کشاف اصطلاحات نفسیات، اسلام اباد، مقتدرہ قومی زبان، 1993، ص:151

۴۹. خټک، راج ولي شاه، سنګزار، پېښور، یونیورسټي پبلشرز، ۲۰۱۰، مخ: ۳۳

۵۰. هم دغه اثر ، مخ:۳۸

۵۱. هم دغه اثر ، مخ:۵۱

۵۲. هم دغه اثر ، مخ:۵۲

۵۳. هم دغه اثر ، مخ:۸۰

۵۴. هم دغه اثر ، مخ:۹۷

۵۵. هم دغه اثر ، مخ:۱۱۱

۵۶. هم دغه اثر ، مخ:۱۱۲

۵۷. هم دغه اثر ، مخ:۱۱۹

۵۸. هم دغه اثر ، مخ:۱۵۱

۵۹. هم دغه اثر ، مخ:۱۵۸

۶۰. هم دغه اثر ، مخ:۴۰

61. احمد، صوفی گلزار (مرتّب)، کشاف اصطلاحات نفسیات، اسلام اباد، مقتدرہ قومی زبان، 1993، ص:221

۶۲. خټک، راج ولي شاه، سنګزار، پېښور، یونیورسټي پبلشرز، ۲۰۱۰، مخ:۳۹

۶۳. هم دغه اثر ، مخ:۲۴

۶۴. هم دغه اثر ، مخ:۱۵

۶۵. هم دغه اثر ، مخ:۱۲

۶۶. هم دغه اثر ، مخ:۱۸

۶۷. هم دغه اثر ، مخ:۴۹

۶۸. هم دغه اثر ، مخ:۸۴

۶۹. هم دغه اثر ، مخ:۱۰۱

۷۰. هم دغه اثر ، مخ:۱۸

۷۱. هم دغه اثر ،مخ:۱۲۱

۷۲. هم دغه اثر ، مخ:۱۱۸
۷۳. هم دغه اثر ، مخ:۴۴
۷۴. هم دغه اثر ، مخ:۱۳۲
۷۵. هم دغه اثر ، مخ:۸۱
۷۶. هم دغه اثر ، مخ:۱۰۱
۷۷. هم دغه اثر ، مخ:۱۴۰
۷۸. هم دغه اثر ، مخ:۹۲